# ۱۵جولائي د افغانستان د قیام ورځ

۱۵جولائي د پښتنو د تاریخ هغه ځلنده باب دے چې په روميي ځل پښتانهٔ د ځانله مملکت خاوندان شول. په دې ورځ لوئي ملي اتل احمدشاه ابدالي د يو خپلواک مملکت اعلان په قندهار کښې کړے ؤ. دا کال ۱۷۴۷ؤ.

د احمد شاه ابدالي خپل نوم احمد خان ؤ. دهٔ د ایران فوځ ابدالي رجمنټ کښې ملازمت اختیار کړے ؤ او روستو د خپل قابلیت په اساس د دغې رجمنټ د څلورو زرو ځوانانو قومندان جوړ شو. دغه څلور زره پښتانهٔ ځوانان وو چې افغانانو ته ئې خپل مملکت ور وګټلو.

د لوئي خراسان دغه مملکت تر کشمیره خور شو. شمال کښې ئې د بخارا د امیرانو او خانانو زور اوبه کړو. دا مو دریاب نه تر بحیره عرب دا مملکت وغزېدو. دسمبر ۱۷۴۷ کښې د احمد شاه ابدالي څلویښت زره ننګیالو پښتنو په هند حمله وکړه او د مغلو سره ئې ټول زور حساب بې باکه کړو.

د سیمې طاقتونو دې نوي مملکت ته



دراني بادشاهت وئیلو ولې احمد شاه بابا خپل وطن د پښتونخوا په نامه یادولو چې روستو ۱۸۴۵ء کښې ورته د افغانستان نوم ورکړے شو.

احمد شاه بابا د دې مملکت اعلان قندهار کښې د پښتنو په لویه جرګه کښې کړے ؤ. دغه جرګې احمد شاه ابدالي ته په رسمیت د بادشاهۍ تاج په سر کړو.

احمد شاه ابدالي د خپل سلطنت سرحدونه تر لرې لرې ورسول ولې د هغه مقصد د پښتنو د ملي ریاست قیام ؤ. د هندوستان نه واپس لاړو او خپل مشهور نظم ئې ولیکلو. دې نظم کښې هغه د خپلې سیاسي نظریې وضاحت داسې وکړو.

کهٔ هر څومې د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نهٔ شي دا ستا ښکلي باغونه

د ډيلي تخت هېرومه چې راياد کړم
زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

☆☆☆